بنیامین زافانیا:
آزاده ژباړه: فرهاد ویاړ

## زه او د امپراتورۍ مډال؟

انګلیسي چارواکو په پام کې لرله چي د نوي کال په شپه د ویاړونو د ورکولو په مراسمو کې، انګلیسي شاعر او هنرمند، بنیامین زافانیا ته هم ویاړ وروبخښي او د ملکي په لاس هغي ته د «او بی ای» (د بریتانیا د امپراتورۍ نظام مخفف) مډال ورکړي. کله چي د لومړي وزیر لیک بنامین زافانیا ته رسیږي، هغه په څواب کې لاندیني لیکنه کوي او په ګاردین ورځپانه کې يې خپروي.

په تیروو څو میاشتو کې زه څو ځلي د «ټوني بلر» درشل ته لاړم او له هغي مي غوښتل چي بهر راووځی او له ما سره وګوري. ما له هغه سره د یوې مکالمي حسرت درلود، خو هغه بهر ته رانغی. او اوس هغه له ما څخه غواړي چي د لیدلو لپاره يې مانۍ ته ورشم! زه د فبرورۍ په ۱۵ د یو ملیون کسانو سره هلته وم...

د نوامبر په ۱۳ له خوبه ویښ شوم او په دې فکر کې وم چي څرنګه کولای شو حکومت ړنګ کړو او د هغي په ځای څه واکمنولی شو، خو په دې وخت کې می ولیدل چي د لومړي وزیر له دفتر څخه ما ته یو لیک رارسیدلی دی؛ په کې لیکل شوي وو: «لومړي وزیر له ما غوښتي چي په محرمانه ډول ستاسو اطلاع ته ورسوم چي هغه په پام کې لري د نوي کال د افتخاري مډالونونو د ورکولو په مراسمو کې، ستاسو نوم ملکي ته وړاندي کړي چي علیا حضرت التفات وکړي او د «او بی ای» د عالیمقام غړي په عنوان ستاسو د انتصاب لپاره د خپل رضایت مراتب څرګند وفرمایي.»

ما ته؟

فکر می وکړ چي واقعا ما ته د امپراتورۍ مډال راکوي؟ له ځان سره مي وویل: دوزخ ته لاړ شئ. زه کله چي دا د «امپراتورۍ» کلمه اورم، عصباني کیږم، دا کلمه ما په هغه یاد اچوي چي څنګه يې زما پر نیاګانو تیری وکړ او زما له نیکه ګانو سره ظالمانه چلند وشو. د همدې امپراتورۍ د مفهوم پر بنسټ دی چي زما انګلیسي تحصیلات دا باور په ما کې رامنځته کړي چي د تورو پوستکو تاریخ له برده دارۍ سره پیل شوی او دا چي مونږ برده زیږیدلي یو، نو باید مننوی ووسو چي زمونږ زړه سواندو سپینو اربابانو مونږ ته آزادي راکړې ده. د همدې امپراتورۍ د ایډې پر بنسټ دی چي زما په شان تور خلک ان خپل حقیقي نومونه او خپل حقیقي تاریخي فرهنګ نه پیژنو. زه د هغو له جملې څخه نه یم چي د خپلې ریښې سره کومه ستونزه ولري، او زه مطمئنا یو له هغوی څخه هم نه یم چي د

پيژندګلوي بحران لري، زما مسئله د راتلونکې مسئله او د ټولو خلکو د سیاسي حقوقو مسئله ده. بنیامین زافانیا او د امپراتورۍ مډال؟ – نه، هیڅکله ښاغلیه بلر! نه، هیڅکله آغلي ملکي!. زه ډیر سخت د امپراتورۍ ضد یم.

دا چې د ټوني بلر له دفتر څخه داسي یو لیک تر لاسه کړی چې له تاسو وغواړي چې جایزه ومنی، ډیره عجیبه خبره ده. په تیرو څو میاشتو کې زه څو ځلې د بلر درشل ته لاړم، غوښتنه مې وکړه چې بهر راشي او ما سره دې ملاقات وکړي، ما د هغې سره د یوې مکالمې حسرت درلود، خو هغه بهر رانغی. او اوس دلته له ما غواړي چې د لیدلو لپاره یې مانۍ ته ورشم! زه د فبرورۍ په ۱۵ د یو میلیون کسانو سره هلته وم، او د وروستي ځل لپاره چې هلته وم، یوازې څو اونۍ دمخه و. د تره زوي مې، مایکل پاول، نیول شوی و او هغه یې د بیرمنګام د پولیس تورن هیل حوزې ته بیولی و او هملته مړ شو. ټول بیرمنګام پوهیږي چې هغه څنګه مړ شو، خو د دې لپاره چې دا مقاله چاپ شي او د دې لپاره چې د سیاسي (او ژورنالیستي) پلوه سمه وي، مجبور یم ووایم چې د هغې مرګ په مشکوکه توګه تر سره شو. پولیس به مونږ ته هیڅ ځواب رانکړي. مونږ له ټولو هغو راپورونو او پلټنو څخه چې راته یې وایي کار وربانديې روان دی، نه مو څه لیدلي او نه مو څه لوستلي دي. اوس هغه څه چې زما کورونه یې کولای شي وکړي دا دی چې له هغه نورو کورنیو سره یوځای شي چې غړي یې په اسارت کې مړه شوي دي، ځکه څوك چې په قدرت کې دي نه غواړي مونږ ته غوږ شي. ښاغلیه بلیره، زه حاضر یم هر وخت له تاسو سره ملاقات وکړم. اجازه راکړی د کورنیو چارو وزارت په اړه تاسو سره خبرې وکړم، اجازه راکړې چې په دې اړه چې غواړی د جرم په اړه سخت چلند ولری، خبرې وکړو، لطفا اجازه راکړی.

ټاکل شوی د امپراتورۍ دا شئی ما ته په ادبیاتو کې د خدمت لپاره راکړل شي، خو زیات شمیر لیکوالان شته چې له ما ښه دي، او هغوې له هغو کارونو سره چې زه ورسره اخته یم، څه کار نلري. څه چې هغوې کوي لیکل دي. زه خپل ډیر وخت د نورو کارونو لپاره مصرفوم. که هغوې غواړي ما ته د امپراتورۍ له دې شیانو څخه یو یې راکړي، ولی نشي کولاې یو یې ما ته د حیواناتو د حقوقو په اړه زما د کارونو لپاره راکړي؟ ولي نشي کولاې یو یې ما ته د راسیسزم په ضد د مبارزې لپاره راکړي؟ څنګه به وي چې یو یې د هغه لیکنو لپاره راکړي چې ما هغو زندانیانو ته لیکي دي چې بی ګناه په قفسونو کې دي؟ زه، امکان لري، هغه جایزه ومنم چې د عراق د جګړې په ضد د هغو میلیونونو انسانانو د راپاڅیدلو لپاره د خدمت په موخه راکړل شي. دا ډیر درونډ کار و – د شعر لیکنی څخه ډیر زیات درونډ کار.

او هو، که په پام کې وي چې دا د امپراتورۍ شئی ما ته د علیا حضرت څخه د خوښی او رضایت احساس راوبخښي، ولې په خپله ما ته نه لیکي. اجازه راکړی واسطه حذف کړو – هغه ما پیژني . د وروستي ځل لپاره مو چې له یو بل سره ملاقات وکړ، زما په یوه کنسرت کې و. هغه د ننداریې شاته راغله چې ما وګوري. دا زما لپاره کومه مسئله نه وه، ډیر شمیر کسان د ننداریې وروسته د جامې بدلولو کوټې ته راځي. ما او د سویلي افریقا یو هنرمند چې هغه شپه مې ورسره کار کاوه ان فکر مو وکړ چې دا خوندوره ده چې مونږ یوه سلطنتي لیواله میرمن هم لرو. هغه یو څه بی ډوله ده، خو یو ښه سپین سرې میرمن ده. اجازه راکړی څرګنده کړم: زه د هغې یا له سلطنتي کورنۍ سره کومه ستونزه نلرم. دا سلطنت دی چې زه ورنه سخته کرکه لرم، هغه سلطنت چې لا دې ته حاضر نه دی چې د برده دارۍ د تجویز لپاره بخښنه وغواړي.

د تن په یوې برخه کې مې دا هیله شته چې د دې مقالې له لیکنې وروسته به ما هیڅکله بیا د ملک الشعرا یا د امپراتورې د مډال د لیونی په توګه په پام کې ونه نیسي. دا کار امکان لري چې زه مې یو شمیر لیکوال دوستان له

لاسه ورکړم، هغه کسان چي امکان لري نور ونه غواړي له ما سره کار وکړي، خو حقیقت دا دی چي زه فکر کوم چي هغه لیکوالان چي د امپراتورۍ له مډال سره جوړجاړی کوي هغه ملک الشعران چي ناڅاپی نرمیږي – ما لا پخوا د هغوی په اړه یو شعر لیکلی دی – هغوی پیرل کیږي او پلورل کیږي.

زیات شمیر تورپوټکي لیکوالان دي چي د امپراتورۍ مډال خوښ لري، دا مډال په هغوی کي دا احساس رامنځته کوي چي بریالي شوي دي.

کله چي ورته مناسبه وي د واکمني طبقي او د هغه زبیښاک په وړاندي چي پر مونږ تپل شوی، مبارزي ته هر کلی وایي خو د زبیښاکګرو له پنډغالي سره یوځای کیږي. د بابیلون لوی کور ته چي د مانۍ په نوم پیژندل کیږي ننوتل، هغوی په آسانۍ سره بی هوښه کوي. هغوی ته له ملکي سره ملاقات او د هغي په حضور کي تعظیم یوه مهمه شیبه شمیرل کیږي.

ما ته رېرونکی وه چي وګورم زیات شمیر همکاران مي، کله چي ملکي د ۲۰۰۲ کال د جولای په نهمه نیټه «د لیکوالانو سره د ملاقات ورځ» ترتیب کړه، دا فرصت یې غنیمت وګڼو او د باکینګهام مانۍ ته د تګ لپاره له خپل ځای په وارخطایی راوڅت شول: «ما دا کار د خپل مور لپاره وکړ»، «ما دا کار د خپلو اولادونو لپاره وکړ»، «ما دا کار د ښوونځي لپاره وکړ»، «ما دا کار د خلکو لپاره وکړ» او داسي نور. ما ان اوریدلي دي چي ځیني تورپوستکي لیکوالان دا د امپراتورۍ نښانانونه راټولوي او وایي «دا د دې ښکارندوی دي چي موږ تر کوم ځایه پورې مخي ته تللي یو.» خو زه وایم، هو؛ بلی، مونږ یوازي د دې لپاره دومره مبارزه وکړه چي ملکه څو دقیقي مونږ ته راکړي او مونږ هم د دې لپاره ډیر زیات منندوی یو، کنه؟

ما هیڅکله نه دي لیدلي چي د امپراتورۍ مډال اخیستونکو څخه یو تن هم په ښکاره ډول له سلطنت څخه انتقاد وکړي. هغوی په رسمي ډول دوستان دي او همدا د امپراتورۍ د مډال د پروژې اصلي هدف دی. د راک بیلابیلو ستورو، بریالی سوداګرو میرمنو او هغو تورپوستکو ته چي یو وخت مبارزین وو، د امپراتورۍ مډال ورکوي چي دا تصور ایجاد کړي چي ټول همدا ډول دي. بیا نو دا د راک ستوري، بریالی میرمنی او پخواني مبارزین، دا نښانونه د خپل نوم شا ته ږدي او ما ته خط لیکي، ګواکی چي زه د دوی د نښان تر اغیزې لاندې راځم. زه یې تر اغیزې لاندي نه راځم، زما غبرګون کاملا د دې په خلاف دی.

هغه لیکوالان چي له واکمن دولت سره کار نکوي، کله چي هر ډول بریالیتوب تر لاسه کوی تورنیږي چي بازار موندنه کوي. په ما یې هم دا تور هغه وخت وهلی کله چي مي ډیر کتابونه خرڅ کړي، کله چي مي ماشومانو لپاره کتاب لیکلی، په البرت هال کي د حضور لپاره، د دیسرت ایلند دیسکز ته د تګ لپاره او د پارکینسون په ننداریٔ کي د ښکاره کیدلو لپاره. خو زه غواړم د ډیر شمیر خلکو سره اړیکه ټینګه کړم، بی له دې چي د خپلو کارونو د منځپانګي پر سر جوړجاړی وکړم.

زه او د امپراتورۍ نښان؟ هر څا چي دا وړاندیز کړی وي، هیڅکله یې زما کارونه نه دي لوستلي. ولي هغوی ما ته هغه افریقایي لوي هنري آثار نه را کوي چي د امپراتورۍ په نوم اخیستل شوي چي زه یې سم ځای ته ستانه کړم؟ تاسو نشی کولای ما شوده کړی، ښاغلی بلر. تاسو غواړی مونږ ټول یوځای خصوصي کړی او تاسو غواړی موږ جګړې ته ولیږي. تاسو کله چي مونږ اړه یو چي زمونږ په ګټه خبرې وکړی، چوپ پاتی کیږی او ترجیح ورکوی د امریکا آواز ووسی. تاسو مونږ ته درواغ ویلي دي او تاسو مونږ ته په درواغ ویلو ادامه ورکوی او تاسو د یوې ښي، مهربانی او غمخوارې ټولنې د یوې زیارکښي طبقي هیلي د یوې امپراتوري چټل ډنډ ته توی کړي دي. تاسو

خرابي کړي ښاغلی بلر – او میرمن ملکي د امپراتورۍ د تداوم لپاره دا هڅي نوري پريږدی. اجازه راکړی چي یو بل څه وکړو.

**وپيرل شو او خرڅ شو**

د زيرکتيا لوی مډالونه او پيسي او جايزي
د تور شعر ژوند ختموي
دا سانسور او ديکتاتوران نه دي چي زمونږ هنر ژوبي.
د شاهانه ملاقاتونو دوکه ماري
او جګپوړو سره اړيکه
خلاقيت وژني او زړونه خوري.

زمونږ نياکان بايد په خپل قبرونو کي نارامه شي
هغه تورپوستکي چي يو وخت برده و، بايد حيرانه شي
چي څرنګه زمونږ ارواوی خرڅی شوی
او زمونږ ستراتيژياني به چک کړي،
امپراتوري پاتک وهي او لاس خوځوي
رام شوي جنګيالي په ټيټ سر رژه وهي
او هر کله چي هغه څه ورته ويل شوي تر سره کړل
هغه وخت نو  خپل د امپراتورۍ مډالونه اخلي.